# د رأی ورکوونکو د نوم ثبتونې بهیر کې د ښځو د ګډون اهمیت

د جمهوری ریاست او ولایتي شورا ګانو له پاره د ۱۳۹۳ لمریز کال د وری پر ۱۲مه نېټه ټاکنې کېږي.
په شرایطو برابرې کومې ښځې چې د رأی ورکولو کارتونه نه لري، مګر غواړي چې په رأی
ورکولو کې ونډه واخلي، په کار دي چې خپل نومونه ثبت کړي.



افغان ښځې اوس هم په هېواد کې له بېلابېلو تعصبونو، تاو تریخوالیو او ستونزو سره مخامخ دي. د رښو ټاکنو د ترسره کولو او په هغو کې د خلکو د ګډون له لارې د حکومت، ملي شورا او نورو انتخابي بنسټونو رامنځ ته کول د دغو چیلنجونو د هوارې لویې وسیلې دي. اسلام لومړنی دین دی چې ښځو ته یې د سیاسي فعالیت حق ورکړی. د اسلام تر ظهور وروسته ښځو ته حق ورکړی شو چې په بیعت، جهاد او هجرت کې ونډه واخلي. ښځې په ټاکنو کې له ګډون سره د خپل وطن او خلکو د راتلونکي په وړاندې خپل ایماني او وجداني مسؤولیت تر سره کوي.

### په ټاکنو کې ستاسو ګډون د دې لامل کېږي چې:

- ریښتینې استازې انتخابي ادارو ته لاره ومومي او د هېواد د مظلومو ښځو غږ پورته کړي. دغه غږ د پالیسیو او قوانینو د جوړولو او تطبیق له لارې د هېواد له ښځو سره مرسته کوي.
- د هېواد د راتلونکي برخلیک په ټاکلو کې برخه واخلئ چې دا کار د فرد په حیث په ټولنه کې ستاسو ارزښت جوتوي.
- له هغو ښځو سره مرسته وکړئ چې همدا اوس د هېواد تر ټولو لرې کلیو او بانډو کې د ښوونې روزنې، کاري فرصتونو، روغتیا، امنیت او داسې نورو برخو کې له چیلنجونو سره مخامخ دي.

### د رأی ورکوونکو نوم ثبتونه:

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رښو ټاکنو د ترسره کولو له پاره د رأی ورکولو شرایطو باندې برابر ټول وګړي تر ټاکنو مخکې تشخیصوي او دوی ته د رأی ورکولو کارتونه ورکوي چې د ټاکنو پر ورځ رأیه ورکړي.

### د ښځو له پاره نوم ثبتونه ولې مهمه ده؟

د دې له پاره چې د ټاکنو پر ورځ رأیه ورکړی شئ، باید چې د رأی ورکولو کارتونه مو درسره ولرئ. نوم ثبتونه د ټاکنو لومړنی پړاو دی چې په کې د ګډون له لارې خپل مسؤولیت تر سره کوئ او د هېواد د یوه وګړي په حیث د وطن په راتلونکي برخلیک کې ونډه اخلئ. تاسو په دغه بهیر کې د نوم ثبتونې له لارې له خپل قانوني حق څخه، چې ټاکنو کې ګډون دی، ګټه اخلئ.

### ښځې باید خپل نومونه ثبت کړي:

- ښځې چې د هېواد د وګړیو تر نیمایي زیاته برخه ده، نو د رأی ورکوونکو د نوم ثبتونې بهیر کې د دوی ګډون ډېر اهمیت لري.
- زیاتره ښځې د رأی ورکولو له پاره نومونه نه ثبتوي. دوی ښایي فکر کوي چې رأیه یې دومره اهمیت نه لري!
- نتیجه دا ده چې د دوی غږ هغو ځایونو ته چې پرېکړې په کې کېږي، نه رسېږي. حقیقت دا دی چې د ښځې رأیه د هېواد د هر بل وګړي د رأیې هومره ارزښت لري.
- د لوستیو، نالوستیو، کلیوالو، ښاریانو، ځوانانو، زړو، بډایانو، بېوزلیو یا بلې هرې ډلې ښځې باید د رأی ورکولو له پاره نومونه ثبت کړي.

## نومونه کله او چېرته ثبتيږي؟

د رأی ورکوونکو نوم ثبتونه د ۱۳۹۲ لمریز کال د جوزا پر ۵مه نېټه د هېواد د ټولو ولایتونو مرکزونو کې پیلېږي او تر دوو میاشتو دوام کوي. وروسته بیا دغه بهیر د ولسوالیو په مرکزونو کې هم پیلېږي چې تر دوو میاشتو به جاري وي.

## د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ښځو د نوم ثبتونې له پاره کومې آسانتیاوې برابروي؟

- د نوم ثبتونې مرکزونو کې د ښځو له پاره جلا محلونه په پام کې دي چې ټول کارکوونکي به يې ښځې وي.
- د رأی ورکولو د کارت له پاره تصویر اخیستل ضروري دي. مګر که ښځې اجازه ورنه کړي نو تصویرونه به يې نه اخیستل کېږي. ښځې باید وهڅول شي چې د نوم ثبتونې د کارت له پاره يې تصویرونه واخیستل شي. داسې به د دوی له کارتونو څخه څوک ناوړه ګټه وانخیستلی شي.
- د نوم ثبتونې د بهیر د رڼاوي له پاره به څارونکي او کتونکي د نوم ثبتونې محلونو کې د نوم ثبتونې بهیر څاري او ګوري. ښځینه محلونه به یوازې ښځینه څارونکي او کتونکي څارلی او کتلی شي.
- د کمیسیون د ټاکنيز و معلوماتو د مرکز و ړیا شمېره (۱۹۰) د نوم ثبتونې د بهیر په ترڅ کې فعاله ده. ښځې کولی شي چې د دغې شمېرې له لارې د نوم ثبتونې د بهیر باره کې ضروري معلومات تر لاسه کړي. په دغه مرکز کې ښځینه او نارینه کارکوونکي په دندو ګومارل شوي چې ستاسو پوښتنو ته ځوابونه ووايي.
- د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټیلفوني پیغامونو، ډرامو او ګرځنده تیاترونو له لارې هم تاسو ته معلومات درکوي. دغو معلوماتو ته مدام پام وکړئ....
- خلکو، په ځانګړې توګه ښځو ته د لا ډېرو آسانتیاوو د برابرولو په موخه د نوم ثبتونې مرکزونه زیاتره په ښوونځیو، کلینیکونو او جوماتونو کې جوړ شوي دي.

## د یوه رأی ورکوونکي د نوم ثبتونې بهیر څومره وخت نیسي او پړاوونه يې کوم دي؟




کله چې د نوم ثبتونې محلونو ته ورشئ، د نوم ثبتونې بهیر مو ښايي له اتو تر لسو دقیقو وخت ونیسي. لومړی په یوه کتار کې د خپل وار له پاره درېږئ. وروسته بیا یو مامور ستاسو د هویت تذکره ګوري چې په شرایطو برابر یئ او که نه او ستاسو تصویر اخلي. که ښځې د تصویر له اخیستلو څخه ډډه وکړي نو تصویرونه يې نه اخیستل کېږي. وروسته بیا بل مامور ستاسو د رأی ورکولو کارت ډکوي او تاسو ته يې درکوي. د نوم ثبتونې له پاره تاسو باید هغه سند وښيئ چې د افغان تبعه په توګه ورڅخه ستاسو پېژندګلوي کېږي؛ لکه: تذکره، پاسپورټ، د مځکې قباله، د زدکړې د هویت کارت، نکاحپانه، د دولت د کارکوونکي د هویت کارت، ..... که له تاسو سره دغه ډول کوم سند نه وي، ستاسو د کورنۍ یو غړی د شاهد په حیث درسره بوځئ. د ګذر د وکیل او یا د کلي د ملک له تصدیق سره هم کولی شئ چې د رأی ورکولو له پاره نومونه ثبت کړئ.

## له ښځو سره ډېره مرسته وکړئ چې خپل نومونه ثبت کړي ...

د زیاتره ښځو لاس لیک، لوست او یا د رأی ورکوونکو د نوم ثبتونې معلوماتو ته نه رسېږي. دا ستاسو دنده ده چې ښځې د نوم ثبتونې له بهیره خبرې کړئ او ویې هڅوئ چې د رأی ورکولو له پاره نومونه ثبت کړي او کارتونه واخلي. دغه معلوماتي رساله له ټولو هغو ښځو سره شریکه کړئ چې تاسې يې پېژنئ او ځنې وغواړئ چې دغه معلومات له ټولو هغو ښځو سره هم شریک کړي چې دوی يې پېژني.




پته: د ټاکنو خپلواک کمیسیون، کابل- جلال آباد لویه لار، کابل، افغانستان.